تاج الدین ملتمل ۲۰۱۹/۱۰/۱۲

د افغانستان د سولې او ولسواکۍ د ملي تفاهم او همغږۍ مرکز

[د ملي همغږۍ مرکز(مهم)]

په بهرني هیوادونو کې میشتو افغانانو ته یو وړاندیز

## د افغانستان د راتلونکي دولت سره د بهرمیشته افغانانو داوطلابانه مسلکي همکاری

**** **** ****

قدرمنو خویندو او وروڼو سلامونه او نیکي هیلي مو ومني:

د افغانستان د ملي همغږۍ د نړیوال مرکز د غړی محترم جنرال صیب سید عمر محبت په وړاندیز او د ملي همغږۍ د نړیوال مرکز د عمومي شورا په تآید او په افغانستان کې د دغه مرکز دعالي شورا په منظوری مونږ په بهر کی میشته یو شمیرافغانان چې د دی مرکز غړي یو، غواړو چې په داوطلبانه ډول (د امکان په صورت کې بیله معاشه، او یا هم د حد اقل معاش سره ) د مختلفو وختونو لپآره په هیواد کی د نظام د سموني په اړه د سلا مشورو او د مسلکي خدمتونو د وړاندی کولو او بهتر کولو لپاره په منظمه توګه د دولت سره دوامداره همکاری وکړو. زمونږ یو شمیر مشران ملګري همدا اوس په کابل کی پدی اړه کار کوي چې د دی موضوع په اړه د راتلونکي ولسمشر سره دا موضوع په تفصیل بحث او پدی اړه به د هغوي نظر او لاربښوني له مونږ سره شریکي کړی.

پدی وسیله مونږ په بهر کی میشته نورو افغانانو باندی هم غږ کوو چې هرهغه څوک چې پدی برخه کی هر نوعه مرسته کولای شی ( یا پخپله تلای شی او یا د نورو ملګرو د تګ په برخه کې مالي او یا معنوي مرسته کولای شی) لطفآ دی د لاندی فورمي په ډکولو سره له مونږ سره خپلي اړیکی تآمین او اړونده مالوماتونه دی له مونږ سره شریک کړی. د دی لپآره چې مو دا کار بنه او منظم مدیریت کړی وی، د ملي همغږۍ مرکز به د دغه کار لپآره د یوی بین المللي انجیو په چوکاټ کی یو منظم داسی حسابي سستم پکار

واچوي چي په مکمله توګه هم زمونږ او ستاسو د ميشتو هيوادونو قانونی مراجعو ته او هم ونډه ورکوونکو غړو ته پوره د اطمينان ورړ وی.

همداراز له تاسو هيله ده چي دغه اړونده ليکنه او فورمه هم په پراخه توګه د نورو دوستانو، خپلوانو او ملګروسره شريکه کړی.  لطفآ خپله ډکه شوی فورمه مونږ ته په لاندی ادرس راواستوي:

tmillatmal@gmail.com

په ګډه، مخ په وړاندی د يوه  متحد، توانمند، ازاد، مستقل او ابرومند افغانستان په لوري

د ملي همغږی د مرکز د عالي شورا سکرتريت

**** **** ****

يادونه:

که چيری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی ليکوال نوری ليکنی هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کليک» په اجرا کولو سره د ليکونکی مقالی او مطالب د «آرشيف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!